# د آقا ﷺ د
# دنیا نه بے رغبتي

**20-October-2022**



هفته وراه د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کښې کیدونکے

د سُنَّتو ډك بیان

(For Islamic Brothers)

## په 20 اکتوبر کال 2022ء د پاکستان په هفته واره اجتماع کښې کیدونکے بیان

# د آقا ﷺ د دنیا نه بے رغبتي

په دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- ۔۔۔ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دنیا اورَتهله
- ۔۔۔ اُمَّت ته د دنیا د بے رغبتئ حُکم
- ۔۔۔ماته د مال د جمع کولو حکم نه دے راکړے شوے
- ۔۔۔ د آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم لوږه مبارکه رایاده شوله!

پیشکش

اَلْمَدِیْنَۃُ الْعِلْمِیَۃ (اسلامِک ریسرچ سنٹر)

(شعبه بیاناتِ دعوتِ اسلامي)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰه　　وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ اللّٰه

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ اللّٰه　　وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ اللّٰه

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (**ترجمه**: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

حضرت فُضَاله بن عُبَيد رَضِیَ اللہُ عَنْهُ صحابئ رسول دے، هغوئي فرمائي چې: يوه ورځ د الله پاک خوږ آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشريف فرما وو، يو کَس راغلے، هغه لمونځ ادا کړو، بيا چې کله د لمونځ نه فارغ شو نو داسې دُعا ئې اوکړله: اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِيْ وَارْحَمْنِيْ اے الله پاکه! ما اوبخښې او په ما رحم اوکړې- په دې باندې رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللہُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: اے لمونځ کونکيه! تا تادي اوکړله، چې کله ته لمونځ اوکړې نو د فارغيدو نه پس کښينه! بيا د الله پاک حمد بيان کړه څنګه چې د هغه د شان سره ښائي، بيا په ما باندې دُرُود اولوله، بيا دُعا اوکړه!

حضرت فُضَاله بن عُبَيد رَضِیَ اللہُ عَنْهُ فرمائي چې: لږ وخت پس يو بَل کَس راغلے، هغه هم لمونځ ادا کړو، بيا کښيناستو، د الله پاک حمد ئې بيان کړو، بيا ئې په رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللہُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې دُرُود اولوستلو، رسولِ رحمت، شفيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: اَيُّهَا الْمُصَلِّيْ اُدْعُ تُجَبْ اے لمونځ کونکيه دُعا اوکړه ستا دُعا به قبلولے شي- (1)

حضرت علّامه مُلّا علي قاري رَحْمَةُ اللہِ عَلَيْه فرمائي چې: مخکښې راغلي لمونځ کوونکي د الله پاک په بارګاه کښې بغير د وسيلې نه دُعا کړې وه، حالانکه د دُعا کوونکي حق دے چې د الله پاک په بارګاه کښې د حاجت

---

[1]...ترمذی، کتاب الدعوات، صفحہ:798، حديث:3477 ـ

بيانولو نه مخکښې وسيله وړاندې کړې-[1]

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د دې حديثِ پاک نه معلومه شوه چې کله هم د الله پاک په بارګاه کښې دُعا کوئ نو د وَسيلې سره ئې کوئ، دُرُودِ پاک هم يوه وسيله ده، ځکه چې کله هم دُعا غواړئ، نو په اَوَّل او آخِر کښې درودِ پاک لولئ- د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د والد صاحب، مولانا نقي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د فرمان خُلاصه ده چې: د دُعا په اَوَّل او آخِر کښې په نبئ کريم صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم او د هغوئي په آل او صحابه کرامو عَلَيهِمُ الرِّضوَان باندې درود لولئ! ځکه چې درودِ پاک د الله پاک په بارګاه کښې قبول دے او الله پاک د دې نه بَرتَر دے چې اَوَّل او آخِر خو قبول کړي او په مينځ (کښې چې کومه دُعا اوکړے شي) هغه رَدّ کړي-[2]

| | |
|---|---|
| محبوبِ ربِّ اکرم! | لاکھوں سلام تم پر |
| لاکھوں درود ہر دَم | لاکھوں سلام تم پر[3] |

## د بيان اوريدلو نيتونه

په حديثِ پاک کښې دي: اَلنِّيَّةُ الْحَسَنَةُ تُدْخِلُ صَاحِبَهَا الْجَنَّةَ ښه نيت بنده جنت ته بوځي-[4]

اے عاشقانِ رَسُول! د ښه ښه نيتونو سره د عمل ثواب زياتيږي- راځئ! د بيان اوريدلو نه مخکښې ښه ښه نِيَّتونه اوکړئ: مَثَلاً نِيَّت اوکړئ چې ❀ د الله پاک د رضا د پاره به پوره بيان اورم. ❀ د عِلمِ دِين د تعظيم [يعني ادب] په نِيَّت به بااَدبه کښينم ❀ ښه په توجو به بيان اورم ❀ څه چې واورم د هغې به د يادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسَولو کوشش کووم-

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب        صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

### آقا ﷺ دنيا اورَټله

د مسلمانانو د وړومبي خليفه، اميرِ المؤمنين حضرت ابو بکر صديق رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د خلافت د وخت خبره

---

[1]...مرقاة المفاتيح، کتاب الصلاة، جلد:3، صفحہ:17، تحت الحديث:930-

[2]... فضائل دُعا، صفحہ:68 بتغير قليل -

[3]...وسائلِ فردوس، صفحہ:49-

[4]...مسندِ فِردَوس، جلد:4، صفحہ:305، حديث:6895-

ده، حضرت زيد بن اَرقم رضی اللہ عنہ فرمائي چې: يوه ورځ مونږ د حضرت ابو بکر صديق رضی اللہ عنہ سره وو، هغوئي د څکلو د پاره اوبه راوغوښتلې نو د هغوئي په خِدمت کښې په شاتو کښې ګډې کړے شوې اوبه وړاندې کړے شوې، چې کله حضرت ابو بکر صديق رضی اللہ عنہ هغه شربت په لاسو کښې راواخِستو نو په هغوئي باندې ويره راغله او هغوئي سلګو اونيول او په زار زار ئې اوژړل-

ډير وخت پس چې کله د هغوئي حالت لږ ښه شو نو مونږه عرض اوکړو: اے خليفهٔ رسول! په کومه خبره تاسو اوژړل؟ په دې باندې حضرت ابو بکر صديق رضی اللہ عنہ اوفرمائيل: يوه ورځ زه د رسولِ رحمت، شفيعِ اُمَّت صَلَّی اللہُ عَلَيْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره ووم، ما اوليدل چې خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَيْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم يو څيز رَټَلو حالانکه هلته هيڅ په نظر نه راتلل، ما عرض اوکړو يَا رسولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَيْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! تاسو کوم څيز رَټِئ؟ **مالِکِ جنّت، صاحِبِ کوثَر** صَلَّی اللہُ عَلَيْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **اوفرمائيل: دنيا زما مخې ته راغله، ما هغې ته اووئيل:** اِلَيْكَ عَنِّی **يعني اے دُنيا! زما نه لرې شه---!**

حضرت ابو بکر صديق رضی اللہ عنہ نور اوفرمائيل: نن چې کله ماته د اوبو په ځائے شربت وړاندې کړے شو نو ماته د آقا صَلَّی اللہُ عَلَيْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دُنيا نه بے رغبتي راياده شوله او زما سره ويره شوه چې هسې نه چې زه د دنيا د راحتونو ښکار شم-[1]

راځئ! د الله پاک په بارګاه کښې دُعا کوو:

حُبِّ دُنیا میں دِل پھنس گیا ہے
ہائے شیطاں بھی پیچھے پڑا ہے
عشقِ احمد میں آنسو بہاؤں
ایسی توفیق دے اِلتجا ہے

نفسِ بد کار حاوِی ہوا ہے
یا خُدا! تجھ سے میری دُعا ہے
حُبِّ دُنیا سے خود کو بچاؤں
یا خُدا! تجھ سے میری دُعا ہے[2]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

[1]...مسند بزار ، جلد:1، صفحہ:106، حديث:44۔
[2]...وسائل بخشش، صفحہ:134-138 ملتقطاً۔

## زُهد سُنَّتِ مصطفٰے ﷺ وَسَلَّم دے

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** زُهد يعني د دُنيا نه بے رغبتي د الله پاک خوښ صفت دے او **اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ!** زموږ آقا او مولا، د مکې مدينې مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په هر ښه صفت کښې کامِل او اکمل دے۔ د الله پاک په فضل او کرم سره د دواړو جهانونو رحمت، د مکې مدينې سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مالِکِ کونين دے، رَبِّ کائنات د دُنيا او آخِرت خزانې هغوئي ته عطا کړې دي! بلکه حق خو دا دے چې

| | |
|---|---|
| کونین بنائے گئے سرکار کی خاطر | کونین کی خاطر تمھیں سرکار بنایا |
| کنجی تمھیں دی اپنے خزانوں کی خدا نے | محبوب کیا، مالک و مختار بنایا[1] |

غرض څه چې د الله پاک دي، ټول د سرکارِ عالي وقار، د مکې د مدينې د تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په اختيار کښې دي، د دې باوُجُود زموږ آقا او مولا، د مکې مدينې مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دُنيا د عيش او آرام، په دې فاني نعمتونو کښې زړه نه لګولو، هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د زاهدانو هم سردار دے، هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د دنيا نه کمال بے رغبتي ساتله او هميشه به ئې د دُنيا په نسبت آخِرت خوښولو۔ الله پاک په قرآنِ کريم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| لَا تَمُدَّنَّ عَيۡنَيۡكَ اِلٰى مَا مَتَّعۡنَا بِهٖۤ اَزۡوَاجًا مِّنۡهُمۡ (پاره:14،سورۂ حجر:88) | **ترجَمۂ کنزُ العرفان**: تاسو خپل نظر د هغه مال او اسباب طرف ته مه اوچتوئ د کوم په ذريعه چې موږ د کافِرانو ډېرو قِسمونه فائدې اخستو ته پرېښودي دي۔ |

په **تفسيرِ صراط الجنان** کښې د دې آيت د لاندې دي: اے د نبيانو سرداره صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! موږ تاسو له داسې نعمتونه درکړي دي د کومو په مخکښې چې د دُنيا نعمتونه حقير دي، نو تاسو د دنيا د مال او دولت نه بے پرواه اوسئ۔

مُفَسِّرين کرام د دې آيت په وضاحت کښې فرمائي چې: مالِکِ جنّت، صاحِبِ کوثر صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د دنيا طرف ته رغبت نه ساتلو، د يوې لحظې د پاره هم د هغوئي په پاک زړه کښې د دُنيا محبت رانغلے، د آيتِ

[1] ...ذوق نعت، صفحہ:47-48۔

كريمه مطلب دا دے چې اے محبوبه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! تاسو د مخكښې نه د دنيا نه بے رغبته ئې، په دې بے رغبتئ كلك اودريږئ! [1]

زُہد وورع میں یا نبی تم بے مثال ہو | بے حد گنہگار مَیں، عصیاں شعار مَیں

## اُمَّت ته د دنيا نه د بے رغبتئ حُكم

الله اكبر! اے عاشقانِ رَسُول! زمونږه آقا او مولا، مكي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دنيا سره ډير زيات رغبت نه ساتلو، د دې باوجود هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته حكم اوشو چې كافِرانو ته وركړے شوي مال او اسباب ته نظر مه كوئ! بعضې علمائے كرام فرمائي چې: دا حكم په اَصل كښې زمونږه د غُلامانِ مصطفٰے د پاره دے، يعني مونږه مسلمانانو ته اوفرمائيلے شو چې اے د محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم غلامانو! تاسو ته د محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په بركت سره كوم كوم قِسم نعمتونه عطا كړے شو، تاسو ته ايمان ميلاؤ شو، اسلام عطا شو، قرآنِ كريم دركړے شو، د داسې خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رحمت تاسو ته عطا كړے شو، بيا د خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په بركت به اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! تاسو ته د جنّت هميشه پاتې كيدونكي نعمتونه هم عطا كړے شي، دا ټول نعمتونه د كافِرانو چرته نصيب كيږي--!! څكه كافِرانو ته وركړے شوي د دنيا، فاني مال او اسباب ته مه ګورئ! دې ته هيڅكله هم د لالچ په نظر مه ګورئ!

قربان مَیں اُن کی بخشش کے مقصد بھی زباں پر آیا نہیں
بِن مانگے دیا اور اتنا دیا دامن میں ہمارے سمایا نہیں
ایمان ملا اُن کے صدقے قرآن ملا اُن کے صدقے
رحمٰن ملا اُن کے صدقے وہ کیا ہے جو ہم نے پایا نہیں

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب | صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د كافِرانو د پاره دُنيا او زمونږ د پاره آخِرت

د مسلمانانو دويم خليفه، حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په بارګاهِ رسالت كښې حاضر شو، اوئې

---

[1]...تفسير صراط الجنان، پاره:14، سورۂ حجر، تحت الآية:88، جلد:5، صفحہ:265ماخوذاً۔

لیدل چې د څرمنې یوه تکیه ده، کومه چې د کجورو د پوټکو نه ډکه وه، سرکارِ علي وقار، د مکې مدینې تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم هغې تکیه ته ډډه وهلې ده او په دانې داره (موره موره) کټ کښې ملاست دے، په کټ کښې څه بستره یا کپړا هم نه وه، چې کله سرکارِ عالي وقار، د مکې مدینې تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم د کټ نه پاځیدلو نو د هغوئي په بدن مبارک باندې د هغې نخښې جوړې شوې وې۔

د آقا کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم د دنیا نه د بے رغبتئ د دې نظارې لیدلو سره د عاشقِ صادق حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ زړه راډک شو، د سترګو نه ئې اوښکې روانې شوې۔ رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم چې کله خپل عاشق په ژړا اولیدلو نو اوئې فرمائیل: اے عمره! ولې ژاړې؟ عرض ئې اوکړو: یَا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم ! په الله پاک مې دې قسم وي! ماته پته ده چې تاسو د الله پاک رسول ئې، د الله پاک په بارګاه کښې ستاسو مرتبه ډیره لویه ده، تاسو د قیصر او کِسریٰ (د روم او د ایران د بادشاهانو) نه ډیر زیات عزت والا ئې، یَا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم ما له ژړا په دې خبره باندې راغله چې قیصر او کِسریٰ خو د دنیا په نعمتونو کښې د عیش ژوند تیروي او تاسو د الله پاک رسول ئې د دې باوجود داسې د زُهد ژوند تیروئ؟ د خپل عاشق اندیښنه چې ئې واوریدله نو سرکارِ عالي وقار، د مکې مدینې تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: **عُمره! آیا ته په دې رضا نه ئې چې د هغه کافِرانو د پاره دُنیا ده او زمونږ د پاره آخِرت دے؟** [1]

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** تاسو اوکتل! زمونږه آقا، خوږ ښکلي مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم به د دُنیا نه څومره بے رغبتي ساتله، د دې ځائے د فاني نعمتونو او د عیش او عشرت نه به لرې پاتې کیدلو او څومره ساده او د زُهد نه ډک ژوند به ئې تیرولو۔

| | |
|---|---|
| سلام اس پر کہ جس نے بے کسوں کی دستگیری کی | سلام اس پر کہ جس نے بادشاہی میں فقیری کی |
| سلام اس پر کہ جس کے گھر میں چاندی تھی نہ سونا تھا | سلام اس پر کہ سادہ بوریا جس کا بچھونا تھا |

## آخرت ته په دنیا باندې ترجیح ورکړئ!

په دې حدیثِ پاک کښې دا څومره ښکلے او د نصیحت نه ډک مدني ګل دے، سرکارِ اعظم، رسولِ محترم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: اے عمره! آیا ته په دې باندې رضا نه ئې چې د کافِرانو د پاره دنیا او زمونږ د پاره

---

[1] ...مجمع الزوائد، کتاب الزہد، جلد:10، صفحہ:428، حدیث:18298۔

آخِرت دے۔

معلومه شوه چې آقائے نعمت، مالِکِ جنّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به آخرت ته په دنيا باندې ترجيح ورکوله۔ کاش! چې مونږه هم دا ذِهن جوړ کړو، که دنيا د لاسونو نه ځي نو لاړه دې شي خو چې په يو حالت کښې هم آخرت د لاسونو نه لاړ نه شي۔ الله پاک په قرآنِ کريم کښې فرمائي:

مَنْ كَانَ يُرِيْدُ حَرْثَ الْاٰخِرَةِ نَزِدْ لَهٗ فِيْ حَرْثِهٖ ۚ وَمَنْ كَانَ يُرِيْدُ حَرْثَ الدُّنْيَا نُؤْتِهٖ مِنْهَا وَمَا لَهٗ فِي الْاٰخِرَةِ مِنْ نَّصِيْبٍ ﴿۲۰﴾

(پاره:25،سورۂ شوریٰ:20)

**ترجَمۂ کنزُ الایمان**: څوک چې د آخرت پټے غواړي مونږه د هغوئي د پاره د هغوئي پټے زياتوو او څوک چې د دُنيا پټے غواړي نو مونږه هغوئي ته د هغې نه څه ورکړو او په آخِرت کښې د هغوئي د پاره هيڅ حصه نشته۔

يعني د چا چې د خپلو عملونو نه د آخِرت نفع (ګټه) مقصد وي، څوک چې د دنيا نه بلکه د آخرت فِکر اوکړي، الله پاک هغوئي ته د نيکو توفيق ورکړي، د هغوئي د پاره د نيکو عملونو لارې برسيره کړي، د هغوئي د نيکو ثواب څو چنده زيات کړي او د هغوئي د آخرت نفع (ګټه) زياته کړي او د چا عمل چې صرف د دنيا د حاصلولو د پاره وي هغوئي په آخرت باندې ايمان نه لري، نو الله پاک هغوئي ته د دنيا نه صرف دومره ورکړي، څومره چې د هغوئي په قسمت کښې وي او د آخرت په نعمتونو کښې د هغوئي هيڅ حصه نه وي ځکه چې هغوئي د آخرت د پاره څه عمل کړے نه دے۔ (1)

حُبِّ دُنیا سے تُو بچا یارَبّ!
عاشقِ مصطفےٰ بنا یارَبّ!
کاش! لب پر مرے رہے جاری
ذِکر آٹھوں پہر ترا یارَبّ!
آہ! طغیانیاں گناہوں کی
پار نَیّا مری لگا یارَبّ!
نفس و شیطان ہو گئے غالِب
ان کے چُنگل سے تُو چُھڑا یارَبّ! (2)

---

1 …تفسير صراط الجنان، پاره:25، سورۂ شوریٰ، تحت الآية:20، جلد:9، صفحہ:52بتغير قليل۔

2 …وسائل بخشش، صفحہ:79ملتقطاً۔

## كه تږوله دنيا ورته ميلاؤ شي نو بيا به هم غريب وي

حضرت رابعه بصريه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهَا يوه ورځ اوفرمائيل: كه چرې يو ګس ته د دنيا ټول دولت ورکړے شي، هغه به بيا هم غريب وي- پوښتنه اوکړے شوه: هغه څنګه؟ اوئې فرمائيل: ځکه چې دنيا فاني ده، يوه ورځ به هر څه فنا شي او هغه مالداره به خالي لاسونه قبر ته کوز کړے شي- [1]

| | |
|---|---|
| بے وفا دنیا پہ مت کر اعتبار | تُو اچانک موت کا ہو گا شکار |
| موت آکر ہی رہے گی یاد رکھ! | جان جا کر ہی رہے گی یاد رکھ! |
| گر جہاں میں سو برس تُو جی بھی لے | قبر میں تنہا قیامت تک رہے |

## دنيا فاني، آخرت باقي دے

اے عاشقانِ رَسُول! دا حقيقت دے! دُنيا فاني ده، دا به ډيره زر فنا شي، دلته که هر څومره مزې اوکړې، څومره مال هم جمع کړې، آخر فنا کيدل دي، د دنيا نه به خالي لاسونه تلل وي- مونږ ټول په دې خبره باندې پوهيږو خو افسوس! دنيا، مال او دولت، د دې ځائے د فاني نعمتونو محبت زمونږه په زړونو کښې کور جوړ کړے دے، آه! کاش! چې مونږه د دنيا په ځائے د آخرت طلبګار جوړ شو- الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| قُلْ اَؤُنَبِّئُكُمْ بِخَيْرٍ مِّنْ ذٰلِكُمْ ؕ لِلَّذِيْنَ اتَّقَوْا عِنْدَ رَبِّهِمْ جَنّٰتٌ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا<br>(پاره:3،سورهٔ آلِ عمران:15) | **ترجَمۂ کنزُ الایمان**: تاسو اوفرمائيئ! آيا زه تاسو ته د دې نه بهتر څيز اوښائيم؟ د پرهيزګارانو د پاره د دوئي د رَبّ سره جنتونه دي، د کومو د لاندې چې نهرونه بهيږي، هميشه به په دې کښې پاتې کيږي- |

يعني اے محبوبه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم ! خلقو ته اوفرمائيئ! چې آيا تاسو ته زه د دنيا د مال او دولت، د سرو او سپينو زرو، کاروبار، باغونو، ښه سورلو او ښه ودانو (کورونو) نه ښه او بهتره څيز اوښائيم؟ واورئ! هغه الله پاک ته نزدې کور يعني جنّت دے، په دې کښې د پئيو (شودو)، شاتو، پاکو شرابو نهرونه بهيږي، دا جنّت د

[1]... الكواكب الدرية، الطبقة الثانية، حرف الراء، رابعة العدوية،جلد:1، صفحہ:267۔

پرهيزګارانو د پاره دے او هغوئي به په دې کښې هميشه اوسيږي- [1]

## د آخرت طلبګار جوړ شئ---!!

د مسلمانانو څلورم خليفه، حضرت علي المرتضٰی شيرِ خدا رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي چې: واورئ! بے شکه دنيا مخ اَړَوي او آخِرت راروان دے، د دې دواړو طلبګار دي، تاسو د دې دواړو طلبګار مه جوړيږئ! د آخِرت طلبګار جوړ شئ---!! بے شکه نن د عمل ورځ ده، نن حِساب نشته، سبا د عمل وخت نشته، د حِساب ورځ به وي- [2]

| | |
|---|---|
| حرصِ دُنیا نکال دے دِل سے | بس رہوں طالبِ رضا یارب! |
| ہائے حُسنِ عمل نہیں پلّے | حشر میں میرا ہو گا کیا یارب! |
| خوفِ دوزخ کا آہ! رحمت ہو | خاکِ طیبہ کا واسطہ یارب! |
| دِل کا اُجڑا چمن ہو پھر آباد | کوئی ایسی ہوا چلا یارب! [3] |

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب          صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## زما د دنيا سره څه تعلق---؟

صحابئ رسول حضرت عبد الله بن مسعود رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: يوه ورځ ما اوليدل چې سرورِ ذيشان، د مکې مدينې سلطان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د کجورو په چټائي باندې آرام کوي او د هغوئي په ډډه (اړخ) مبارک باندې د چټائي نخښې جوړې شوې دي، ما عرض اوکړو، يَا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مونږ له اجازت راکړئ! په دې چټائيئ باندې به څه بستره خپروو د پاره د دې چې تاسو په سکون سره آرام اوکړے شئ- دا ئې چې واوريدل نو رحمتِ دارَين، مالِکِ کونَين صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: زما د دنيا سره څه تعلق---؟ زما او د دنيا مثال خو داسې دے لکه چې يو مسافر د سختې ګرمئ په ورځ سفر کوي، هغه وخت هغه د يوې وَنې لاندې کښيني، لږ ساعت

---

[1]...تفسير صراط الجنان، پاره:3، سورۀ آلِ عمران، تحت الآية:15، جلد:1، صفحه:511بتغير قليل-
[2]...فضائل الصحابة امام احمد بن حنبل، صفحه:530، حديث:881-
[3]...وسائل بخشش، صفحه:80-81ملتقطاً-

آرام اوکړي، بيا په خپله مخه روان شي- [1]

| | |
|---|---|
| ہے چٹائی کا بچھونا، کبھی خاک ہی پہ سونا | کبھی ہاتھ کا سرہانا مدنی مدینے والے! |
| تری سادگی پہ لاکھوں، تری عاجزی پہ لاکھوں | ہوں سلام عاجزانہ مدنی مدینے والے! [2] |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب　　صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! دا حقيقت دے، مونږه ټول مسافر يو، دا دنيا لکه چې د يوې بيديا په مينځ کښې يوه وَنه ده، مسافر راځي، د لږ وخت د پاره حِساريږي او د آخرت په لور ځي- آيا يو مسافر په لاره کښې يو ځائے خوښوي؟ مونږه هم په ژوند کښې سفر کوو، چرته داسې شوي دي چې مونږه په سفر يو، په لاره کښې يو ښکلے ځائے راشي او هغه ځائے مونږ خوښ کړے وي چې بس اوس کور ته نه ځو، اوس ژوند دلته تيرول دي؟ يا په لاره کښې د خوراک وغيره د پاره په يو هوټل کښې ناست يو او هم هلته مو زړه لګيدلے وي؟ نه---!! داسې نه کيږي- مسافر په سفر کښې ډير ښکلي ځيونه ويني، بعضې وخت په هوټلو وغيره کښې حِساريږي نو د کور په نسبت زيات سکون محسوسوي، د دې باوجود هغه هلته زړه نه لګوي، د هغه ځائے په نعمتونو کښې نه ورکيږي، زر کور ته واپس ځي- دا دنيا هم داسې ده، مونږه ټول مسافر يو، د څه مودې د پاره دلته حِسار يو، ډير زر به د آخِرت په سفر روانيږو-

الله پاک دې مونږ ته د خوږ آقا، د مکې مدينې د مصطفٰے ﷺ په وسيله باندې د دنيا بے رغبتي نصيب کړي! کاش! چې مونږه د آخِرت فِکر کوونکي جوړ شو-

| | |
|---|---|
| ہمارے دِل سے نکل جائے الفتِ دُنیا | دے دِل میں عشقِ مُحَمَّد مرے رجا یارَب! [3] |

## د سرو او سپينو زرو غرونه به راسره روان وو

د مسلمانانو خوږه مور جانه، حضرت عائشه صِدّيقه طيبه طاهره رضی اللہ عنہا فرمائي: يوه ورځ يوه انصاري زنانه زما خوا له راغله، کله چې هغې د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم ﷺ ساده شان بستره مبارکه اوليدله

[1]...الزہد والرقائق امام ابن المبارک، باب فی التواضع و کراہیۃ الکبر، صفحہ:54، حدیث:195۔
[2]...وسائل بخشش، صفحہ: 426۔
[3]...وسائل بخشش، صفحہ:82۔

نو د هغې زړه راډک شو، هغه فوراً لاړله او د مالوچو نه ډکه نرمه بستره ئې راوليږله، ما د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پاره هغه بستره اوغوړوله- چې کله سرکار، عالي وقار، د مکې مدينې تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشريف راوړلو نو پوښتنه ئې اوکړه: عائشه! دا څه دي؟ ما ټوله واقعه عرض کړه، په دې باندې رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: عائشه! دا بستره هغې زنانه ته واپس کړه! په الله پاک مې دې قسم وي! که چرې ما اوغوښتل نو د سرو او سپينو زرو غرونه به زما سره روان وي- [1]

| | |
|---|---|
| تری فرش پر حکومت تری عرش پر حکومت | تُو شہنشہِ زمانہ مدنی مدینے والے! |
| ترا خُلق سب سے بالا ترا حُسن سب سے اعلیٰ | فِدا تجھ پہ سب زمانہ مدنی مدینے والے! |
| ترا غم ہی چاہے عطار، اسی میں رہے گرفتار | غمِ مال سے بچانا مدنی مدینے والے![2] |

## د دنيا د خزانو وړانديز (پيشکش)

حضرت خَيثمَه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: الله پاک مالِک او مختار نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته دا وړانديز اوکړو چې اے محبوبه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! که چرې تاسو اوغواړئ نو مونږ به تاسو ته داسې خزانې عطا کړو کومې چې ستاسو نه مخکښې نه چاته ميلاؤ شوې دي، نه به ستاسو نه پس چاته ميلاؤ شي، په دې باندې نور دا چې د دنيا د دې خزانو په وجه به ستاسو د آخرت په انعامونو کښې هيڅ کمے هم نه راوستلے کيږي- عابِد او زاهِد نبي، مکي مدني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عَرض اوکړو: اے الله پاکه! دا هر څه زما د پاره په آخِرت کښې جمع کړئ! [3]

| | |
|---|---|
| بعطائے رَبِّ حاکم تُو ہے رِزق کا بھی قاسم | ہے ترا سب آب و دانہ مدنی مدینے والے! |
| مَیں غریب بے سہارا، کہاں اور ہے گزارا | مجھے آپ ہی نبھانا مدنی مدینے والے![4] |

## زُهد مزاج مصطفٰے ﷺ دے

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د دنيا او د دنيا د مال او دولت زياتوالے يقيناً نقصان دے خو ياد ساتئ! دا

---

[1]...شُعب الايمان، باب فی حب النبی، فصل فی زہدہ، جلد:2، صفحہ:173، حديث:1468۔

[2]...وسائل بخشش، صفحہ:425-429ملتقطاً۔

[3]... مصنف ابن ابی شيبہ، کتاب الفضائل، باب اعطی اللہ تعالی محمد، جلد:7، صفحہ:444، حديث:162۔

[4]...وسائل بخشش، صفحہ:426۔

هر يو ته نقصان نه رسوي- علمائے کرامو ليکلي دي چې هغه د لوړې مرتبې والا اوليائے کرام د چا په زړه کښې چې د الله پاک مينه وي، د چا په زړونو کښې چې د الله پاک ياد، د هغه د محبت نه سيوا هيڅ يو څيز پاتې نه وي، هغه پاک زړونه لرونکو اوليائے کرامو ته د دنيا د مال زياتوالے هيڅ قسمه نقصان نه رسوي- (1)

الله اکبر! دا د خوږ آقا، د مکې د مدينې د مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُمَّتيان دي، چې دنيا دوئي ته نقصان نه شي رسولے نو رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته به څه نقصان اورسوي؟ چې د چا قرِين (يعني د خوا شيطان) هم کلمه لوستلې وه او مسلمان شوے وو، هغوئي ته به د دنيا مال څه نقصان اورسوي---؟ خو زُهد مزاجِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے، هغوئي ته باقاعده وړانديز اوکړے شو، اے محبوبه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! د دنيا خزانې هم قبولې کړئ! ستاسو د آخِرت په انعامونو کښې به هم څه کمے نه راوستلے کيږي- خو قربان شم! زمونږه د آقا او مولا، د مکې د مدينې د مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دنيا نه د کمال بے رغبتئ حالت دا دے چې هغوئي د دې باوجود هم دنيا قبوله نه کړه بلکه دا عَرض ئې اوکړو: مولا! دا هر څه زما د پاره آخِرت له جمع کړئ-

## ماته د مال جمع کولو حکم نه دے شوے

آه! يو مونږه کمزوري زړه والا يو، چې زمونږه آمدن کم شي نو ګيلې شروع کړو، که آمدن مو زيات شي نو په مزو چرچو کښې پريوځو او نافرمانئ شروع کړو، زمونږه په حق کښې دنيا سراسر نقصان دے خو بيا هم مونږ د دنيا په راجمع کولو کښې يو- د حضرت ابو مسلم خَولاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه روايت دے، د نبيانو نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: الله پاک ماته د مال جمع کولو حکم نه دے راکړے بلکه رَبِّ کريم ماته حکم اوکړو (2):

| | |
|---|---|
| فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَكُنْ مِّنَ السّٰجِدِيْنَ ﴿۹۸﴾ وَاعْبُدْ رَبَّكَ حَتّٰى يَاْتِيَكَ الْيَقِيْنُ ﴿۹۹﴾ (پاره:14،سورۂ حجر:98-99) | **ترجَمۂ کنزُ العرفان**: ته د خپل رَبّ د حمد سره د هغه پاکي بيانوه او د سجده کوونکو نه شه- او د خپل رَبّ عبادت کوه تر مرګه پورې- |

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** ټول قرآنِ کريم، ټول حديثونه اولولئ او اوګورئ! مونږ ته هم زمونږه رَبِّ

---

[1]...سبع سنابل مترجم،صفحه:191خلاصتاً-

[2]...الزہد امام احمد بن حنبل، صفحه:317، حديث:2316ملتقطاً-

کريم د مال جمع کولو، د مال په محبت کښې د پريوتو حکم نه دے راکړے بلکه زمونږه رِزق خو الله پاک په خپله ذِمه اخستے دے، آؤ! مونږ ته د نيکو کولو، د عبادت او رياضت او د آخرت گټلو حکم راکړے شوے دے خو افسوس! مونږه د دُنيا په رنګينو کښې ورَک شو او آخِرت هير کړو، د دنيا په محبت، د مال او دولت په حِرص کښې داسې ګيريږو چې د ژوند اَصلي مقصد مونږ ته هډو ياد نه وي- کاش! چې د زُهدِ مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په وسيله باندې زمونږه د آخِرت فِکر نصيب شي-

تِرا غم ہی چاہے عطّارؔ اِسی میں رہے گرفتار | غمِ مال سے بچانا مَدنی مدینے والے[1]

## د ناکامئ اَصلي سبب غريبي يا حِرص؟

پته نه لګي چې چا زمونږه په ذهنونو کښې دا خبره اچولې ده چې کاميابي، ترقي، عُروج د مال او دولت د زياتوالي نوم دے، پته نه لګي چې زمونږه رويې ولې داسې شوې دي چې په معاشره کښې چې کوم مالداره دي، مونږه هغوئي کامياب ګنړو او چې څوک غريب دے هغه ناکامه، وروستو پاتې او پته نه لګي چې څه څه ئې ګنړو-

يقين اوکړئ! کاميابي او ناکامي، ترقي او تَنَزُّلي، زوال او عروج، د دې د مال او دولت سره هيڅ تعلق نشته- غور اوکړئ! په دې دنيا کښې د ټولو نه کامیابه او کامِل او اَکمل ژوند زمونږه د محبوب آقا، د دوارو جهانونو د سردار صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے، هغوئي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خو مال جمع نه کړو، هغوئي ته خو وړانديز (پيشکش) اوکړے شو چې محبوبه! د دنيا خزانې قبولې کړئ! هغوئي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بيا هم قبولې نه کړې- پته اولګيده:

سب کچھ اور ہے، جسے تُو خُود سمجھتا ہے | زوال بندۂ مؤمن کا بے زَری سے نہیں

يعني د مسلمانانو د زوال سبب غريبي نه ده، د دې سبب څه بل څه دے، هغه څه دے؟ حِرص، د مال او د دولت محبّت---!! د دې حِرص په وجه باندې ورور د ورور ګريوان ته لاس اچوي ❀ هم د حِرص په وجه باندې په وراثت کښې خيانت کيږي ❀ د حِرص په وجه جنګ جګړې کيږي ❀ هم د حِرص په وجه باندې د سود لين دين کيږي ❀ د حِرص په وجه د رِشوتونو لين دين کيږي ❀ د حِرص په وجه د تاوان د پاره د اغوا پيښې کيږي ❀

---

[1]...وسائل بخشش، صفحہ:426۔

او هم د حِرص په وجه قتلونه کیږي- په الله پاک مې دې قسم وي! زمونږه د معاشرې نه که چرې د مال محبت او د دنیا بد حِرص ختم شي نو د معاشرې 90 فیصده بدئ به ختمې شي خو آه! د دنیا محبت، د مال او دولت حِرص زمونږه معاشره په خپله ولقه کښې اخستې ده-

| | |
|---|---|
| حِرصِ دُنیا نکال دے دِل سے | بس رہوں طالبِ رِضا یارَب! |
| ہائے حُسنِ عَمَل نہیں پلّے | حشر میں میرا ہو گا کیا یارَب! |
| خوف دوزخ کا آہ! رحمت ہو | خاکِ طیبہ کا واسطہ یارَب! |
| دِل کا اُجڑا چمن ہو پھر آباد | کوئی ایسی ہَوا چلا یارَب![1] |

راځئ! د دنیا د ټولو نه د کامیاب شخصیت یعني د خپل آقا او مولا، رسولِ خُدا، احمد مجتبیٰ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ژوند مبارک د تیرولو په باره کښې اورو!

## د آقا ﷺ د مبارک ژوند طرز

په 26 سیپاره د سورۃ الْاَحْقاف په 20 نمبر آیت کښې د الله پاک فرمان مبارک دے:

| | |
|---|---|
| اَذْهَبْتُمْ طَيِّبٰتِكُمْ فِيْ حَيَاتِكُمُ الدُّنْيَا وَ اسْتَمْتَعْتُمْ بِهَا ۚ فَالْيَوْمَ تُجْزَوْنَ عَذَابَ الْهُوْنِ | **ترجَمۂ کنزُ الایمان:** تاسو د خپلې برخې پاک څیزونه د دنیا په خپل ژوند کښې فنا کړل او هغه مو په خپل عمل کښې راوستل نو نن به تاسو ته د رسوائیئ د عذاب بدله درکولے شي- |

خلیفۂ اعلیٰ حضرت، مُفسرِ قرآن، حضرتِ صدرُ الاَفاضِل عَلّامه مولانا مفتي سیّد محمّد نعیم الدّین مُراد آبادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په **تفسیرِ خَزائِنُ العِرفان** کښې د دې آیت مبارک لاندې فرمائي چې: په دې آیت کښې چې الله پاک د دنیا په مزو اختیارولو باندې د کافِرانو تَوبیخ (یعني ملامتیا) اوفرمائیله نو رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم او د حُضُور صحابهٔ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان د دنیا د مزو چرچو نه ډډه اختیار کړه-[2] د مسلم شریف

[1]...وسائل بخشش، صفحہ:80-81ملتقطاً۔

[2]...تفسیر خزائن العرفان، پارہ:26، سورۂ احقاف، تحت الآیۃ:20، صفحہ:928۔

په حديثِ پاک کښې دي، خوږ آقا، د مدينې والا مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د وفاتِ ظاهري پورې د حُضُور اهلِ بيتِ اَطهار عَلَيهِمُ الرِّضوَان کله هم د وَربَشو ډوډۍ 2 ورځې پرله پسې نه ده خوړلې۔ [1] دا هم په حديث کښې دي چې ټوله مياشت به تيره شوله او د مکانِ عالي شان په انغري کښې به اور قدرې هم بَل نه شو، په يو څو کجورو او په اوبو باندې به وخت تيريدلو۔ [2]

کھانا تو دیکھو جو کی روٹی
بے چھنا آٹا روٹی بھی موٹی
وہ بھی شکم بھر روز نہ کھانا
صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَسَلَّم
کون و مکاں کے آقا ہو کر
دونوں جہاں کے داتا ہو کر
ہیں فاقے سے شاہِ دو عالَم
صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَسَلَّم
قبضے میں جس کے ساری خدائی
اُس کا بچھونا ایک چٹائی
نظروں میں کتنی ہیچ ہے دُنیا
صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَسَلَّم

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

د مسلمانانو د دويم خليفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ نه روايت دے، هغوئ فرمائي چې (اے خلقو!) که چرې ما غوښتلے نو ستاسو نه به مې ښه خوراک کولو او ستاسو نه به مې ښه جامې اغوستلې خو زه خپل عيش او راحت د خپل آخِرت د پاره باقي ساتل غواړم۔ [3]

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## ټوله مياشت به ئې د کور په انغري کښې اور بَل نه شو

د مسلمانانو خوږه مور جانه حضرت عائشه صِدِّيقه رَضِیَ اللہُ عَنۡہَا فرمائي چې: بعضې وخت به پوره مياشت تيره شوله، د سرکارِ عالي وقار، د مکې مدينې د تاجدار صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د کور مبارک په انغري کښې به اور نه بليدو۔

1...مسلم، کتاب الزہدوالرقائق،صفحہ:1137، حديث:2970۔
2...بخاری، کتاب الرقاق، باب کيف کان عيش، صفحہ:1589، حديث:6458۔
3...خزائن العرفان، پارہ:26، سورۂ احقاف، تحت الآية:20، صفحہ:928۔

[(1)] په یو روایت کښې دي: حضرت عائشه صِدِّیقه رضی الله عنها خپل خورئي حضرت عُروَه بن زُبیر ته اوفرمائیل: اے خوَرَیه! کله به داسې هم کیدل چې دوه دوه میاشتې به تیرې شولې، د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صلّی الله علیه وآله وسلّم د کور مبارک په انغري کښې به اور نه بلیدو- حضرت عُروَه بن زبیر رضی الله عنه عَرض اوکړو: ترور جانې! بیا به تاسو وخت څنګه تیرولو؟ اوئې فرمائیل: په کجورو او اوبو باندې- [(2)]

سیده عائشه رضی الله عنها نور فرمائي: کله به داسې هم کیدله چې، سرکارِ ذي وقار، د مکې مدینې تاجدار صلّی الله علیه وآله وسلّم به فرمائیل: عائشه! راشه! برکتي خوراک اوخوره---!! چې زه به حاضره شوم نو مخې ته به ئې 2 کجورې وې- [(3)]

په روایتونو کښې دي: د نبیانو تاجدار، زمونږه د زړونو قرار صلّی الله علیه وآله وسلّم د دنیا نه تشریف یوړلو، هغوئي چرې هم په یوه ورځ کښې 2 ځله په مَړه ګیډه ډوډئ اونه خوړله- [(4)]

## د آقا ﷺ لوږه مبارکه راته رایاده شوله!

یو ځلې حضرت ابو هریره رضی الله عنه په یو ځائے تیریدلو، اوئې کتل: څه خلق ناست دي وریته کړے شوې چیلئ (بیزه) خوري (دا ئې چې اولیدل نو حضرت ابو هریره رضی الله عنه ته د سرکارِ عالي وقار، د مکې د مدینې د تاجدار صلّی الله علیه وآله وسلّم لوږه مبارکه رایاده شوله، زړه ئې بے قراره شو) چې هغه خلقو حضرت ابو هریره رضی الله عنه ته د خوراک دعوت ورکړو نو هغوئي رضی الله عنه د خوراک نه انکار اوکړو او اوئې فرمائیل چې: نبئ کریم صلّی الله علیه وآله وسلّم چرې هم د وَربَشو ډوډئ په مَړه ګیډه نه وه خوړلې تر دې پورې چې د دنیا نه ئې تشریف یوړلو- [(5)]

یعني ما هغه وخت دا سوچ اوکړو چې زما محبوب صلّی الله علیه وآله وسلّم خو په ژوند شریف کښې د وَربَشو ډوډئ هم پرله پسې په مړه ګیډه اونه خوړله او زه وریته کړے شوې چیلئ (بیزه) اوخورم! زړه مې نه غواړي- حکیم الأُمَّت مفتي احمد یار خان نعیمي رحمة الله علیه د دې روایت لاندې فرمائي چې: یاد ساتئ! دلته پرله پسې د نه خوړلو ذِکر دے (یعني هغوئي صلّی الله علیه وآله وسلّم پرله پسې ښه خوراکونه اونه کړل، ولې) حُضُورِ انور صلّی الله علیه وآله وسلّم وریت

---

[1]...بخاری، کتاب الرقاق، باب کیف کان عیش، صفحہ:1589، حدیث:6458۔
[2]...بخاری، کتاب الهبة وفضلها والتحریض علیها، صفحہ:661، حدیث:2567ملتقطاً۔
[3]...سبل الہدی، فی صفۃ عیشۃ فی الدنیا، جلد:7، صفحہ:100۔
[4]...مسلم، کتاب الزہدوالرقائق،صفحہ:1138، حدیث:2974۔
[5]...بخاری، کتاب الاطعمۃ، صفحہ:1386، حدیث:5414۔

کړے شوے چرګ هم خوړلے دے خو کله نا کله۔ [1]

## 3 ورځې پس یوه نمړۍ---!!

د صحابيۀ رسول حضرت انس بن مالِک رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ نه روايت دے چې: یوه ورځ د رسول شهزادګۍ، د جنّت د زنانوو سردارې سيده فاطمه رَضِیَ اللہُ عَنۡہا د ډوډۍ یوه قطره واخستله او په بارګاهِ رسالت کښې حاضره شوله۔ خوږ نبي، رسولِ هاشمي، مکي مدني صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پوښتنه اوکړه: لورې! دا څه دي؟ عرض ئې اوکړو: د ډوډۍ یوه قطره ده، ما غوښتل چې اوَّل ئې تاسو ته وړاندې کړم، (خوږ آقاء د مکې مدينې مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هغې نه لږه اوخوړله، بيا ئې اوفرمائيل:) لورې! 3 ورځې پس دا وړومبۍ نمړۍ ده کومه چې ستاسو د والِد خُلې ته لاړله۔ [2]

## د لوږې په سبب ئې په ناسته لمونځ اوکړو

مشهور صحابيۀ رسول حضرت ابو هريره رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ فرمائي: یوه ورځ په بارګاهِ رسالت کښې حاضر شوم، اومې کتل: چې هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په ناسته (نفل) لمونځ ادا کوي۔ ما عرض اوکړو: يَا رسولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم آيا څه تکليف درته رسيدلے دے؟ اوئې فرمائيل: (نه، بلکه) د لوږې په وجه باندې په ناسته لمونځ کووم۔ حضرت ابو هريره رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ فرمائي چې : د دواړو جهانونو د مالِک او مختار، رسولِ بے مثال صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې دا خبره ما واوريدله نو زړه مې راډک شو، زما د سترګو نه اوښکې رواني شوې۔ رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: ابو هريره! مه ژاړه---!! بے شکه څوک چې په دُنيا کښې د ثواب په طمع باندې لوږه برداشت کړي، هغه به د قيامت په ورځ د سختې لوږې نه محفوظ وي۔ [3]

## د شپې خوراک به ئې د سحر د پاره نه کيښودو!

د ابنِ عساکر روايت دے چې مالِکِ جنّت، قاسِمِ نعمت صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د سحر خوراک د شپې د پاره او د شپې خوراک د سحر د پاره نه بچ کولو او نه به ئې کيښودو، د هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره به چرې هم 2 څيزونه نه جمع کيدل (يعني د ضروري استعمال هر څيز به په يو وخت کښې يو وو مثلاً) 2 قميصونه، 2 څادرې،

---

[1]...مرآۃ المناجيح، جلد:7، صفحہ:63۔

[2]...شُعب الايمان،باب فی الزہد، جلد:7، صفحہ:315، حديث:10430۔

[3]...شُعب الايمان،باب فی الزہد، جلد:7، صفحہ:314، حديث:10425۔

د نعلین شریف دوه جوړې به چرې نه وې (بلکه په یو وخت کښې به یوه یوه جوړه وه)- سیده عائشه صِدّیقه رَضِیَ اللهُ عَنْها نور فرمائي چې: هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم چرې هم په کور کښې هسې نه وو ناست، څنګه چې به ورته لږ وخت هم میلاؤ شو نو هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم به پیزار ګنډلو د پاره د دې چې څوک غریب ئې واچوي یا به ئې جامې پیوند کولې د پاره د دې چې د چا غریب په کار راشي- (1)

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** دا د الله پاک د هغه محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم مبارک حال دے، چا له چې د دواړو جهانونو د خزانو چابیانې ورکړے شوې- زمونږه د آقا، د مدینې والا مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم غریبي اختیاري وه- ګنې نو په الله پاک مې دې قسم وي! چاته چې څه هم میلاویږي هغه د مدینې د سرکار، د زړونو د قرار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم په برکت میلاویږي او د کائنات هر څیز ته د مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم د نور فیض رسي-

مالکِ کونین ہیں گو پاس کچھ رکھتے نہیں | دو جہاں کی نعمتیں ہیں ان کے خالی ہاتھ میں

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د یو صاحبِ نظر حکایت

یو ولیُّ الله د ډوډئ یوه قطره د خوراک د پاره راواخستله بیا ئې په دې کښې د روحانیت په نظر غور اوکړو نو په هغه قطره کښې ئې د نور یو تار اولیدو بیا ئې چې د هغه نور د تار په ذریعه بره نظر اوکړو نو اولیدل چې هغه د نور تار د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم د نور د یوې شغلې سره تړلے دے- په شروع کښې یوه شغله په نظر راغله- بیا په غور کولو ورته معلومه شوه چې د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم د نور شغلې د دنیا هر نعمت ته رسي- (2)

کیا نورِ احمدی کا چمن میں ظہور ہے | ہر گل میں ہر شجر میں مُحَمَّد کا نُور ہے

## په 2 ورځو کښې یو ځل د خوراک خوښولو اظهار

زمونږه د خوږ آقا، د مدینې والا مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم لوږه مبارکه اختیاري وه، رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: زما رَبّ ماته دا وړاندې کړل چې زما د پاره د مکې مُکرَّمې غرونه د سرو زرو کړي، خو ما عرض اوکړو، یا الله پاکه! **زما خو دا خوښه ده چې که چرې زه یوه ورځ اوخورم، نو په دویمه ورځ**

---

[1]...تاریخ دمشق ابن عساکر، جلد:4، صفحہ:101۔

[2]...فیضان سنت، پیٹ کا قفل مدینہ، صفحہ:648۔

**اوږے پاتې شم، د پاره د دې چې کله اوږے یم نو تاته فریاد اوکړم او تا یاد کړم او چې کله اوخورم نو ستا شکر او حمد بیان کړم۔** [1]

سلام اُن پر شکم بھر کر کبھی کھانا نہ کھاتے تھے
سلام اُن پر غمِ اُمّت میں جو آنسو بہاتے تھے

## د دنیا نه بچ کیدل غوره دي!

الله! الله! اے عاشقانِ رَسُول! غور اوکړئ! چې زمونږه آقا او مولا، د مکې مدینې مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم ته رَبِّ کریم وړاندیز اوکړي چې اے محبوبه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم! که چرې تاسو اوغواړئ نو ستاسو د پاره د مکې غرونه د سرو زرو جوړ کړے شي- د دې باوجود د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم د دنیا نه بے رغبتي صَد مرحبا--!! هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم د سرو زرو د غرونو قبلول خو غټه خبره ده د هرې ورځ د ضرورت خوراک ئې هم طلب نه کړو بلکه عرض ئې اوکړو چې: مولا! زه یوه ورځ اوخورم، بله ورځ اوږے پاتې شم، چې کله اوخورم نو ستا شکر ادا کړم، چې کله اوږے پاتې شم نو تاته ژړا فریاد اوکړم-

آه! یو مونږ یو، د دُنیا مینې زمونږه په زړونو کښې کور کړے دے، کاش! چې مونږه هم د دنیا په ځائے د آخرت فِکر کوونکي جوړ شو-

پیچھا مرا دُنیا کی محبّت سے چھڑا دے | یا رَب! مجھے دیوانہ مدینے کا بنا دے [2]

## دُنیا لوبې تړوقې دي

په 7 سیپاره، سورۂ اَنعَام ، آیت 32 کښې الله پاک فرمائي:

وَ مَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَاۤ اِلَّا لَعِبٌ وَّ لَهْوٌ ؕ وَ لَلدَّارُ الْاٰخِرَةُ خَيْرٌ لِّلَّذِيْنَ يَتَّقُوْنَ ؕ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿۳۲﴾

(پاره:7،سورۂ انعام:32)

**ترجَمۂ کنزُ العرفان:** او د دنیا ژوند صرف لوبې تړوقې دي او بے شکه د آخِرت والا کور د ویریدونکو د پاره بهتر دے نو آیا تاسو نه پوهیږئ؟

خلیفۂ اعلیٰ حضرت مفتي محمد نعیمُ الدِّین مراد آبادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه چې د دې آیت په تفسیر کښې څه

[1] ...ترمذی، کتاب الزہد، باب ما جاء فی الکفاف والصبر، صفحہ:561، حدیث:2347۔

[2] ...وسائل بخشش، صفحہ:112۔

فرمائيلي دي، د هغې خلاصه دا ده: نيکئ او عبادتونه اګرچه په دنيا کښې د پاتې کيدو سره کولے شي خو دا د دنيا نه بلکه د آخِرت کارونه دي- د دې آيت مبارک نه دا ثابته شوه چې د نيکو بنده ګانو د عملونو نه سيوا په دنيا کښې چې څه هم دي، ټولې لوبې ټوقې دي- [1]

| | |
|---|---|
| دولتِ دنیا سے بے رغبت مجھے کر دیجئے | میری حاجت سے مجھے زائد نہ کرنا مالدار[2] |

## کومه دنيا ښه، کومه بده ده؟

شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت بانئ دعوتِ اسلامي حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطّار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه فرمائي: د دنيا د څيزونو 3 قِسمونه دي: (1): د دنيا هغه څيزونه کوم چې په آخرت کښې پکار راځي او د هغې فائده د مرګ نه پس ميلاويږي، داسې څيزونه صرف 2 دي: عِلم او عَمَل (يعني په اِخلاص سره شوے عبادت)- د دنيا دا قِسم محمود (يعني ډير غوره) دے- (2): د دنيا هغه څيزونه د کومو فائده چې صرف په دنيا کښې ده، په آخِرت کښې د هغې هيڅ فائده نه ميلاويږي، لکه د ګناهونو نه خوند اخستل، د جائِزه څيزونو نه د ضرورت نه زياته فائده اخستل مثلاً جائيداد، سره زر، سپين زر، ښه جامې او ښه ښه خوراکونه وغيره- دا د دنيا د غندنې وړ قِسم څيزونو کښې شامل دے- (3): د دنيا هغه څيزونه کوم چې په نيکو کښې مرسته کوي، لکه ضروري خوراک، جامې وغيره دا قِسم هم محمود (يعني غوره) دے- [3]

| | |
|---|---|
| دُنیا کے غموں کی تم للہ دَوا دیدو! | بُلوا کے غم اپنا دو سرکار مدینے میں[4] |

الله پاک دې مونږه د دنيا، د دې د ګناهونو نه د ډک يا فضول عيش او عِشرت نه محفوظ کړي، کاش! چې بَس صرف د الله او د رسول محبت په زړه کښې کور جوړ کړي او مونږه بَس صرف د مدينې يادونه ژړوي، د آخِرت په فِکر کښې ورَک يو، د دنيا نه بَس صرف خپل جائز ضرورتونه پوره کوو او د الله او د رسول د رضا کولو

---

[1]...خزائن العرفان، پاره:7، سورۂ انعام، تحت الآية:32، صفحہ:252خلاصۃً۔
[2]...وسائل بخشش، صفحہ:218۔
[3]...نیکی کی دعوت، صفحہ:261۔
[4]...وسائل بخشش، صفحہ:277۔

والا په کارونو کښې د مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په جلوؤ کښې، د سرو زرو د جنګلو مخې ته د ایمان او عافیت سره د دنیا نه رُخصت شو-

اٰمِیۡن بِجَاہِ النَّبِیِّ الۡاَمِیۡن صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

جاہ و جلال دو نہ ہی مال و مَنال دو
سَوزِ بلال بس مری جھولی میں ڈال دو

دُنیا کے سَارے غم مرے دل سے نکال دو
غم اپنا یاحبیب! برائے بِلال دو

بہتی رہے جو ہر گھڑی بس یاد میں شہا!
وہ چشمِ اَشکبار پئے ذُوالجلال دو

دو دَرد سنّتوں کا پئے شاہِ کربلا
اُمّت کے دِل سے لَذّتِ عصیاں نکال دو [(1)]

## په 12 دیني کارونو کښې یو دیني کار: نیک عملونه

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د دنیا او د دې د عیش او عِشرت نه د ځان خلاصولو، د زُهد او تقوىٰ د نعمت موندلو د پاره د عاشقانِ رسول د دیني تحریک دعوتِ اسلامي د دیني ماحول لمن اونیسئ! 12 دیني کارونه هم ښه په شوق سره کوئ! اِنۡ شَآءَ اللہُ الۡکَرِیۡم! د دنیا او د آخِرت بے شمیره خیر به مو نصیب شي- د ذیلي حلقې په 12 دیني کارونو کښې یو دیني کار **نیک اَعمَال** رساله هم ده- دا وړه شان رساله د مکتبۃ المدینه نه طلب کړئ او که چرې اوغواړئ نو د دعوتِ اسلامي د ویب سائټ (www.dawateislami.net) نه ئې ډاؤن لوډ کړئ بلکه که نوره آساني غواړئ نو په خپل موبائل کښې ***Naik Amal*** ایپلي کیشن انسټال کړئ، په دې کښې مختلف په نیکو عملونو مشتمل سوالونه ورکړے شوي دي، د هر سوال نه لاندې 30 خانې دي، هره ورځ د خپلې خوښې یو وخت مقرر کړئ او د خپلو عملونو جائزه واخلئ، او د دې مطابق ژوند تیر کړئ، اِنۡ شَآءَ اللہُ الۡکَرِیۡم! د دې په برکت به د ګناهونو نه د بچ کیدو او د نیکو کولو ذهن جوړ شي، د زړه پاکي به مو نصیب شي او کردار به مو روښانه روښانه، صفا ستهرا، ښکلے شي- راځئ! د ترغیب د پاره یو مدني سپرلے اورو:

[1]...وسائل بخشش، صفحہ:305۔

## ټول کور سم شو

د اَټک ضلعې (پنجاب، پاکستان) د یو اسلامي ورور بیان دے، ما د ګناهونو نه ډک ژوند تیرولو، فلمونه کتل، خوشي تَشي ګرځیدل، لمونځونه قضا کول وغیره زما په معمولاتو کښې شامل وو، یوه ورځ زمونږه علاقې ته د عاشقانِ رسول مدني قافله راغله، په هغوئي کښې یو اسلامي ورور ماته د ماښام د لمونځ کولو او په بیان کښې د شرکت کولو دعوت راکړو، زما خوش قسمتي وه چې زه د هغوئي سره جُماعت ته لاړم، د ماښام بیان مې واوریدو کوم چې ما له ډیره مزه راکړه، د بیان په آخِره کښې مبلغ د **نیک اَعمَال** رسالې پیژندګلو اوکړه، په **نیک اَعمَال** رساله کښې د درج د نیکو نه د ډک ژوند تیرولو مدني ګل چې مې اولیدلو نو زه ډیر خوشحاله شوم، د دې رسالې په شکل کښې د شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَہ د اُمَّت د اِصلاح د پاره چې مې محنت اولیدلو نو ما سمدستي د بیعت د پاره نوم ورکړو او عطّاري جوړ شوم، د وخت د ولئ کامل سره مې نسبت څه جوړ شو چې زړه مې د ګناهونو نه بیزاره شو او د نیکو طرف ته مائل شو، ما د ګناهونو نه توبه کړله او د دعوتِ اسلامي دیني ماحول مې د زړه د کومي نه خپل کړو، د دې په برکت سره زما اخلاق ښه کیدل شروع شول، زما د دې بدلون زما په کور والوو باندې هم ډیر ښه اثر اوشو، اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہ! په مزه مزه ټوله کورنۍ قادري، رضوي، عطّاري جوړه شوه، په کور کښې د لمونځونو پابندي شروع شوه، فلمونه ډرامې، سندرې باجې بندې شوې او د ګناهونو نه د ډک چینل په ځائے مدني چینل اولګیدو۔

| | |
|---|---|
| خوب مَدنی قافِلوں کی دھوم ہو | نیک ہو اُمّت اے نانائے حسین |
| مَدنی اِنعامات کی ہو ریل پیل | نیک ہو اُمّت اے نانائے حسین[1] |

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د دعوتِ اسلامي په دیني ماحول کښې مدني انعامونو ته اوس نیک اَعمَال وئیلے شي۔

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب      صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## مدني قاعِده *(Madani Qaida)* موبائیل ایپلي کیشن

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د قرآنِ کریم د فیضان عام کولو د پاره د دعوتِ اسلامي ***I.T*** ډیپارټمنټ یو

[1]... وسائلِ بخشش، صفحہ:258۔

موبائل ايپلي کيشن هم جاري کړے دے، د کوم نوم چې مدني قاعِده (**Madani Qaida**) دے۔ په دې ايپلي کيشن کښې پوره مدني قاعده او د دې آډيو (**Audio**) شامله کړے شوې ده يعني په دې ايپلي کيشن کښې چې تاسو د مدني قاعدې په کوم حرف يا په کوم لفظ باندې کلک (**Click**) کوئ، آډيو (**Audio**) کښې به د هغې تلفظ چليږي، داسې د دې ايپلي کيشن په مرسته باندې په آسانئ سره د مدني قاعدې لوستل، د دې مشق (**Practice**) کولو سره د دې صحيح مخارج او ضروري تجويد زده کيدے شي۔ دا ايپلي کيشن په خپل سمارټ فون کښې انسټال کړئ، پخپله ترې هم فائده واخلئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب          صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** بيان د ختمولو په لور بوځم او د سُنّت د فضيلت او د ژوند د څينو آدابو بيانولو سَعَادت حاصلووم۔ د رِسالت تاجدار، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي:

**مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِي فَقَدْ اَحَبَّنِي وَمَنْ اَحَبَّنِي كَانَ مَعِي فِي الْجَنَّةِ**

چا چې زما د سُنّت سره محبت اوکړو هغوئي زما سره محبت اوکړو او چا چې زما سره محبت اوکړو هغوئي به په جنّت کښې زما سره وي۔ (1)

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب          صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## قناعت سُنَّتِ مصطفٰے ﷺ دے

**د آخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **2 فرامين مبارک: (1):** چا چې ايمان راوړو، او بقدرِ کفايت رزق ورکړے شو او هغه د الله پاک په ورکړه باندې صبر اوکړو بے شکه هغه کامياب شو (2) **(2):** اے ابو هريره! قناعت اختيار کړه د ټولو نه لوئي شکر گزاره به جوړ شې۔ (3)

**اے عاشقانِ رَسُول!** قناعت سُنَّتِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے۔ د قناعت معنٰی ده: چې څومره ميلاؤ شي په

---

[1]...تاريخ دمشق، جلد:9، صفحہ:343۔

[2]...مسلم، کتاب:الزکاة، باب:القناعة، صفحہ:376، حدیث:1054۔

[3]...ابن ماجہ، کتاب:الزہد، باب:الورع والتقویٰ،صفحہ:684، حدیث:4217ملتقطًا۔

هغې رضا کېدل، د زیاتو خواهش نه کول ❁ زمونږه آقا، مدني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته چې به څه میلاویدل په هغې به خوشحاله وو ❁ هغوئي چرې هم په خوارک کښې عیب (نُقص) نه وو راویستلے ❁ هغوئي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چرې هم د خوندورو او ترسکنو خوراکونو خواهش نه وو کړے ❁ رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د مال او دولت خواهش نه لرلو۔

| | |
|---|---|
| کل جہاں مِلک اور جَو کی روٹی غذا | اس شکم کی قناعت پہ لاکھوں سلام [1] |

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** په سُنَّتِ مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې عمل اوکړئ، قناعت اختیار کړئ ❁ قناعت د ایمان کمال او د اسلام حُسن دے ❁ قناعت کوونکے ځان د دنیا نه بچ کوي او د آخِرت په لور ئې روانوي ❁ قناعت کوونکے د الله پاک محبوب دے ❁ د قناعت کوونکي سره خلق هم محبت کوي [2] ❁ امامِ شافعي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه فرمائي چې: قناعت د مالدارئ اَصل دے۔ [3]

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکتبة المدینه د **بهارِ شریعت** جلد: 3 نه 16 حصې او د شیخ طریقت، امیر اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطار قادري رضوي دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِیَه د 91 مخونو رساله **550 سنت او آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنت زده کولو یوه ذریعه د دعوتِ اسلامي قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے۔

| | |
|---|---|
| اُلفتِ مصطفٰے اور خوفِ خُدا | چاہئے گر تمہیں قافلے میں چلو |
| عِلم حاصِل کرو، جَہل زائل کرو | پاؤ گے راحتیں قافلے میں چلو |

الله پاک دې مونږ له د عمل کولو توفیق راعطا کړي۔

اٰمِیۡن بِجَاہِ النَّبِیِّ الۡاَمِیۡن صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب      صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

---

[1]...حدائق بخشش، صفحہ:304۔
[2]... نضرة النعیم، جلد:8، صفحہ:3175۔
[3]...دیوانِ امام شافعی، صفحہ:133۔

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډكه اجتماع كښې

## لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴾1﴿ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ
الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

د دين بزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمُعے او زيارت مينځنئ شپه باندے) دا دُرُود شريف پابندئ سره كم ازكم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت كښې د سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار كوي او قَبْر كښې د داخليدو وخت كښې هُم، تر دې چې سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر كښې د خپل رَحمت نه ډكو لاسو باندې كوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو.

### ﴾2﴿ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيِّدُنا انَس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو.

### ﴾3﴿ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1... افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون،ص١٥١ملخصًا

خوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته كړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿4﴾ د شپږ لا كه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ
صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صَاوِى رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرگانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريكه ئې اُووائيو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے ﷺ

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو كس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اكبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه كښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ كرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُم حيران شو چې دا څوك ذِى مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې كله هغه لاړو نو سركار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې كله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[3] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما

---

1... القول البديع،الباب الثانى، ص٢٧٧
2... افضل الصلوات على سيد السادات،الصلاة الثانية والخمسون،ص١٤٩
3... القول البديع،الباب الاول،ص١٢٥

شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿1﴾ د یو زر ورځو نیکئ:

جَزَی اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَیِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمَا نه رِوایت دے چې سرکارِ مدینه صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے یو زر ورځو پورې نیکئ لیکي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شریکه اووائیو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِیْمُ الْکَرِیْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِیْم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب　　　　صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

1... الترغیب والتربیب،کتاب الذکر و الدعاء،۳۲۹/۲،حدیث:۳۰
2... مجمع الزوائد،کتاب الادعیۃ،باب فی کیفیۃ الصلاۃ...الخ،۲۵۴/۱۰،حدیث:۱۷۳۰۵
3... تاریخ ابنِ عساکر،۱۵۵/۱۹،حدیث:۴۴۱۵

www.dawateislami.net